SHARIAT WEEKLY

شريعت

اوونيزه

په اوونۍ كي دوه ځله خپريږي

دافغانستان د اسلامي امارت مركزي نشراتي ارگان

دريم كال پنځه ديرشمه گڼه پرله پسې (۱۳۵) يكشنبه د۱٤۱۹هق كال دصفرالمظفر (۱۲)د۱۳۷۷ هـ ش كال د غبرگولي دمياشتي (۱۸) د۱۹۹۸ميلادي كال جون (۷)

اوضاع در درهٔ پنجشير روز تا روز وخيم ميگردد

قيمت مواد غذايي بحدي بالا رفته است كه خريد آن از توان مردم عادي بيرون شده است

قراراطلاع به تعقيب مخالفت هاي قبلي يك عده از علماي دره پنجشر كه سياست هاي جنگ طلبانه مسعود را عليه امارت اسلامي افغانستان محكوم نموده بودند و بالاخره منجر به زنداني شدن بعضي از انان گرديد، اوضاع درين روز ها در آنجا وخيم گرديد است .

چندي قبل مسعود بخاطر ادامه قدرت سياسي خويش كه از بعضي از كمونيست ها شهير دعوت نموده بود تا با ايشان در يك جبهه نا مقدس عليه امارت اسلامي افغانستان متحد گرديده به توافق رسيده بودند .

بدين ارتباط عده، از علما آنجا مخالفت شديد خويشرا راجع به اين عمل خاينانه مسعود ابراز نموده و سياست جنگ افروزانه وي و قوماندانان آنجا را محكوم نمودند.

گزارش مي افزايد كه مولوي قيام الدين مدرس مدرسه سفيد چهر پنجشير و مولوي فقير احمد يكتن ديگر مخالفت شديد خويشرا در محضر عام عليه سياست قوماندان سالاري مسعود ابراز نموده هرگونه ائتلاف را با گروههاي كمونيست قاطعانه محكوم نمودند. درين بار ايشان نظر به حمايت مردم محل و مقاومت مردم از چنگ قوماندانان رهايي يافته اند.

ص۰٤،

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډيـر نـږدي دى تقوا(پرهيزگـارى) ته .

(سورة المائدة)

به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين مبلغ يكهزار مليون افغاني بازلزله زدگان ولايات تخار وبدخشان مساعدت صورت گرفت

به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين مبلغ يكهزار مليون افغاني توسط هيأت جمعيت افغاني سره مياشت با زلزله زدگان ولايات تخار و بدخشان مساعدت صورت گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد به اساس هدايت عاليقدر امير المؤمنين محترم حافظ مولوي سيد عصمت الله عاصم رئيس عمومي و سكرتر جنرال جمعيت عالي افغاني سره مياشت هيأت را به خاطر توزيع كمك هاي انسالدوستانه جمعيت افغاني سره مياشت كه مبلغ يكهزار مليون افغاني را احتوا مينمايد توظيف نموده تا بعد از سروي مناطق زلزله زده در ولايات تخار و بدخشان كمك هاي جمعيت افغاني سره مياشت را به مصيبت رسيده گان توزيع نمايد.

د بهرنيو چارو د وزارت معين د المان د بهرنيو چارو د وزارت له يو تن غړي سره وكتل

د بهرنيو چارو وزارت معين محترم الحاج مولوي سيد محمد «حقاني» د خپل كار په دفتر كي د المان د بهرنيو چارو وزارت د پاليسي جوړوني د دفتر له غړي سره د پرسونل ضد ماينونو د پاكوني په هكله وكتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : په كتنه كي لومړي د بهرنيو چارو وزارت محترم معين د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو په باره كي خبري وكړي ، محترم حقاني وويل : د افغانستان اسلامي امارت تل سوله غواړي او هر وخت يې هلې ځلې كړي دي چي د افغانستان ځوريدلو خلكو ته د ژوندانه ښه شرايط برابر كړي او څلورم مخ

په غورماچ كي د گلم جم مليشو اته تنه قوماندانان او سل تنه نوري مليشي هم ونيول شوي

په ډيره زياته پيمانه وسلي او مهمات هم د اسلامي اردو مجاهدينو ته په لاس ورغلي

د غورماچ په ولسوالي كي ميشته مجاهدين د عالي مورال په درلودلو سره په مخ روان دي

د بادغيس ولايت د غورماچ ولسوالي په مربوطاتو كي د گلم جم د مليشو د اتو تنو مشهورو قوماندانانو په گهون د څوي سل تنه مليشي د تصفيوي عمليو په بهير كي د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا ونيول شوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د هيواد د امنيتي خبرځايونو له خولي خبر راكړ : دوي چي د اسلامي اردو د مجاهدينو له پرمختگ وروسته غورماچ ولسوالي په بيلا بيلو ساحو كي ځانونه پټ كړي و د دغه ځاي د مسلمانو او ديندارو خلكو په همكاري د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا ونيول شول.

د غورماچ ولسوالي په بيلا بيلو ساحو كي د اسلامي اردو د څلورم مخ

طالبانو اسلامي نظام حاكم او د هيواد په اتبا برخه كي يې واك منه سوله او امنيت تأمين كړ

قاضي محمد امين وقاد

د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلكو هيله او ارمان دا و چي د دوي په گران هيواد كي اسلامي حكومت واكمن شي. دغه ټكي د هيواد جهادي شخصيت محتـــرم څلورم مخ

اجساد ۲۰ تن از كشته شده گان مخالفين به ايشان تسليم داده شد

اجساد ۲۵ تن مخالفين كه در تعرض اخير شان در دره شكردره بجا مانده بود به ايشان تسليم داده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در تعرض ناكام روز دوشنبه كه مخالفين عليه مواضع مجاهدين اردوي امارت اسلامي در استقامت شكر دره براه انداخته بودند بر علاوه شكست و عقب نشيني و قبول تلفات سنگين ۲۵ تن اجساد كشته

ص۰٤،

د احمد شاه مسعود په هكله د گروموف څرگندوني

له مسعود سره له پټي معاهدي وروسته روسي لښكري كابل ته تللي وي

احمدشاه مسعود به له روسي فوځونو نه امداد تر لاسه كاوه، كله كله به يې د روسانو پر ضد جعلي جنگونه هم كړل

د مسعود خاصي اړيكي له فرانسي سره وي، د (اي. ايف. پي) په مرسته د دومره شهرت څښتن شو

د قيمتي كانو په پيرودلو يې زياتي پيسي تر لاسه كړيدى

وحدت ورځپانه

په پېښور كي په پښتو ژبه خپريدونكي ورځپاڼي (وحدت) د صفر المظفر په ۱۱مه نيټه ليكلي دي چي : په افغانستان د روسي تيري كوونكو فوځونو قوماندان (كساب گروموف) په دي وروستيو كي يو معلوماتي څلورم مخ

كورس آموزشي ژورناليزم در مقر آژانس اطلاعاتي باختر افتتاح گرديد

كورس اموزشي ژورناليزم طي محفلي با صحبت عالمانه محترم ملا امير خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و كلتور در مقر آژانس اطلاعاتي باختر رسماً افتتاح گرديد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در اين محفل ابتدا محترم ملا امير خان متقي در رابطه به ارزشهاي معنوي و كسب تجارب فني و مسلكي كارمندان وسايل ارتباط جمعي مختصراً روشني انداخته نقش قلم بدستان و ژورناليستان راد ر امر ارتقاي سطح دانش مسلكي و انعكاس واقعيت هاي جامعه اسلامي مان ارزنده خواند.

كورس متذكره كه امور تدريسي آن توسط استادان فاكولته ژورناليزم پوهنتون كابل پيش برده ميشود در حدود ۹۰ تن از كارمندان و خبر نگاران وسايل ارتباط جمعي امارت اسلامي افغانستان در آن اشتراك داشته و موضوعات مربوط به ژانر هاي خبري تحليلي و ادبي براي مدت شش هفته در آن تدريس ميگردد.

انستيتوت پوليتخنيك كابل ترميم واحيا ميگردد

تصدي تهيه مسكن انستيتوت پوليتخنيك كابل را مجدداً ترميم واحيا مي نمايد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در محفليكه به همين مناسبت در اديتوريم پولتخنيك كابل تدوير يافته بود نخست آياتي چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد بعداً محترم ملا محمد انور احمدي رئيس تصدي تهيه مسكن در رابطه به چگونگي امور ترميماتي و پروژه احياي مجدد انستيتوت پولتخنيك كابل مفصلاً صحبت نموده بعداً محترم مولوي محمد موسي محمدي معين وزارت تحصيلات عالي و مسلكي در رابطه به مثبي فرهنگي امارت اسلامي افغانستان تحت زعامت عاليقدر امير المؤمنين صحبت نمود . سپس محترم مولوي محمد رستم حنفي معين دوم وزارت فوايد عامه در رابطه به پيشبرد كار هاي تعميرات و احياي پروژه هاي خيالي از سوي وزارت فوايد عامه صحبت نموده و وعده سپرد تا در اين راه از هيچگونه فداكاري دريغ نه ورزد متعاقباً محترم مولوي انور الحق مجاهد رئيس انستيتوت ص۰٤،

هدف از انفجارات اتومي هندوستان هدف گيري پاكستان و چين است

جان زيمين رئيس جمهور چين

بيجنگ : طبق گزارش منابع خبري AFP رئيس جمهور چين طي اظهارات اخيرش گفته است كه هدف از انفجارات ازمايشي اتومي هندوستان هدفگيري پاكستان و چين است، رئيس جمهور چين در مصاحبه با رئيس اداره خبري AFP در اظهار نخستين عكس العملش در برابر هندوستان گفت : هندوستان از دير زمان به اين سو مي خواست كه بحيث يك نيروي اتومي در منطقه جنوب آسيا شناخته شود و كشور هاي منطقه را زير فشار داشته باشد كه بالاخره در شرايطي اظهار وجود كرد كه وضع منطقه را از لحاظ امنيتي با خطر جدي مواجه ساخته كه البته مسؤوليت آن مستقيماً متوجه خودش مي باشد .

وي افزود كه اگر هندوستان در رويه فعلي اش تجديد نظر نكرد ص۰٤،

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د تخار او بدخشان د زلزلو وير

او ورسره جوخت د مخالفينو د راكټونو ورښت

د تخار او بدخشان ځيني سيمي يو ځل بيا زلزلي داسي ويجاړي كړي چي داسي وراننيا نه چالبدلي او نه يې اوريدلي وه، په زرگونو هيوادوال د سخت ناورين په حال كي شهيدان او ټپيان شول، خپلوان يې د وير او ماتم په ټغر كيناستل، ژوندي پاتي كسان هم د لوږي او درملو د نشتوالي له كبله د مړيني له خطر سره مخامخ دي انا لله ... !

د امداد بهير او وش هم د لارو د ستونزو له كبله په ښتو شيرل كيږي، له دي امله نه يوازي د سيمي خلك بلكي هيوادوال او په بهر كي مهاجر افغانان ټول سخت خواشيني او ويرجن دي؛

بي له شكه داسي مصيبتونه د الله تعالي د قدرت نښي او د بندگانو لپاره ازمېښتونه دي او وير كرته د بندگانو د بدو عملونو او غفلتونو په پايله كي د هغوي د تنبيه لپاره نازليږي؛

د الله تعالي په بندگانو كي له پيغمبرانو او ملائكو پرته (عليهم الصلوة والسلام) هيڅوك له گناه څخه يو مخ پاك او معصوم نه دي، هوا د بندگانو په منځ كي ځيني ټولني يا افراد د مسلماني له دعوي سره سره په معصيتونو كي تر ستوني غرق وي نو ځكه الله تعالي ددغسي افتونو په ذريعه د هغوي تنبيه كول غواړي، مونږ ټولو بندگانو ته ضروري ده چي يو خو عبرت ورته واخلو او توبي ته حاضر شو، بل دا چي د مصيبت ځپلو ناورين په دوهم مخ

په عراق د لگول شويو بنديزونو د پای ته رسولو په سر به د جون په ۱۱ مه مهم مذاكرات پيل شي

واشينگټن : د نړيوالو خبري منابعو د وركړل شويو رپوټونو له مخي ويل كيږي چي پر عراق باندي د لگول شويو بنديزونو د راتلونكي فيصلي په اړه د ملگرو ملتونو د وسلو د پلټونكو د ټيم مشر ريچرډ بټلر به د جون د مياشتي په ۱۱ مه نيټه عراق ته لاړ شي او په بغداد كي به د عراقي چارواكو سره د پلټني كارونو ته اخري شكل وركړي او د بنديزونو څلورم مخ

د ايران په انقلابي محكمه كي زورورو چاودنه وشوه

تهران : د نړيوالو خبري منابعو د وركړل شويو رپوټونو له مخي ويل كيږي چي د ايران د انقلابي محكمي په ودانۍ كي يوه زورووره چاودنه وشوه، ددي زورور بم په چاودلو سره شپږ تنه ځاي پر ځاي مړه او ۳۵ تنه نور ټپيان شوي دي چي د ۱۵ ټپيانو حالات خطرناك ښودل شوي دي چاودنه د محكمي په وراندي په انتظار خانه كي شوي ده او د محكمي دري پوړيزي ودانۍ ته يې هم سخت تاوان رسولي دي د چاودني پړه په څلورم مخ

يكهقدار سلاح و مهمات از ولايات كابل و پكتيكا بدست آمد

يكتعداد سلاح و مهمات از مربوطات ولسوالي پغمان ولايت كابل كشف و بدست آمد.

آژانس باختر خبر داد : سلاح و مهمات متذكره شامل يك ميل زيكويك ، يك ميل گرينوف، يك ميل راكت انداز ، يك ميل تفنگ بيست تكه، شش ميل كلاشينكوف، ٦٥ عدد مرمي بي ايم دوازده و يكمقدار مهمات مختلف النوع بوده كه توسط ص۰٤،

د هند او پاكستان د پوځيانو تر منځ دوه ساعته نښتي وشوي

جمو : د (كي. بي. اي) (جي. اين. اين) د خبري آژانسونو د رپوټونو له مخي ويل كيږي چي د هندي او پاكستاني پوځيانو تر منځ د جمويه سرحدي علاقه كي دوه شپه دوه ساعته توده جگړه شوي ده . ددغه نښتي په وخت دواړو غاړو د پوهل ستكړونه په درنو وسلو ويشتلي دي، خو د دواړو غاړو لخوا نه د مالي او ځاني تاوان په اړهڅلورم مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۲۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفی»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ۲۰۰۷٥
په پیښور کې : د طالبانو نمایندگی تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : $\frac{٤٠۳۸٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

پام کې ونیسو او هر څومره مرسته مو چې له وسه کیږي هغه و نه سپموو او که مرسته مو له لاسه نه کیږي نو لږ تر لږه خودي د زړه له کومې ځان ورسره شریك وگڼو.

د افغانستان اسلامي امارت له دې امله چې دین نصیحت دی د خپلو مصیبت ځپلو هیوادوالو لپاره دا اعلان کړی دی چې په خپل عملي ژوند کې که د شریعت مقدس مخالفت وي هغه سم کړي او د اخلاص توبه وکړي ، ورسره ورسره یې د خپل وس په اندازه مرسته هم ورسره کړې ده ؛

په دې برسیره د افغانستان اسلامي امارت له مرستندویه هیوادونو او موسسو څخه مننه کوي او هیله ورنه کوي چې ددغه بې ساري مصیبت له قربانیانو سره خپلې مرستې چټکې او زیاتې کړي،

د مرستو په بهیر کې د اسرائیلو د اسلام دښمنه حکومت مرسته هم یادیږي ، که هر څو دغه مرسته مازې (براي نام) ده مگر په شمال کې د ملگرو ملتونو له گرزنده جمهور رئیس (!!!!) استاذ رباني سره د دوي د هغو پټو اړیکو ښکارندویه ده چې د هند د حکومت په واسطه یې په منځ کې شته او اسرائیلو ته یې د رسمیت پیژندنې تمه هم یو وخت ورکړې وه .

په دغه هکله که د پردي شاته هر څه وي هغه به وي خو د تخار او بدخشان د زلزلو له هغه ویر سره سره چې د ټولو افغانانو بلکې د ټول اسلامي امت او نړۍ زړونه یې لړزولي دي .

د مسعود د شوراي نظار زړونه نه په هغو مصیبت ځپلو یخ شوي دي او نه یې د کابل په مسلمانانو باندې زړه یخ شوی دی چې پوره څلورنیم کاله دوي او دوي ته ورته احمقانو او د پردو مزدورانو راکټونه وربادي وورول نو ځکه یې د زلزلې د عینین ناورین او ویر په وخت کې د روسي لوړ رتبه فوځي هیئت په قومانده - چې اوس په پنجشیر کې دي او نوې وسله یې ورته راوړې ده - د کابل په مظلومو مسلمانانو باندې یې د راکټونو وربښت جوړ کړ او ډیرې کورنۍ یې د تخار او بدخشان له ویرلړ لیو سره یو ځای په ویرولړلې، دا بد عمل که څه هم د دوي د تل لپاره خوی دی خو له هیواد والو سره د دوي د هیڅ راز تړاو او زړه سوي د نه لرلو گواهي هم ورکوي؛

بله لا دا چې مسعود د افغانستان د جهاد په وخت کې د شوروي له اردو سره چې تړون لاسلیك کړی دی هغه لا اوس هم په خپل اعتبار پاتې دی، پخپله مسعود او دده شوراي نظار د شوروي اتحاد له رنگیدلو وروسته د روس تر قومانده لاندې دي دغه هیئت چې راتگ یې اخبارونو خپور کړی اتلس پوځي متخصصین چې شپږ یې روسي جنرالان او نوره یې عمله یادیږي په داسې وخت کې پنجشیر ته راغلي دي چې له یوي خوا د نړۍ پام د زلزلو د ناورین په لوري اوښتی دی اوله بلې خوا د مسعود شوراي نظار د اسلامي امارت د ځواکونو په وړاندې خپل مورال او معنویت له لاسه ورکړیدی دي.

داسې ښکاریږي چې روسیه له افغانانو سره د شوروي اتحاد د دښمنۍ کړنلاره چلوي او د هغوي له سرنوشت نه یې هیڅ پند او عبرت نه دی اخستی نو ځکه اوس براﻻ تگ راتگ کوي او د نورو پوځي تړونونو په لټه کې دي، دا په داسې حال کې چې په خوله دروغجن جوړې او پراخ بنسټه حکومت جوړولو خبرې کوي؛

دلته موږ یو ځل بیا د ملگرو ملتونو او نړۍ پام دغه ټکي ته را اړوو چې روسان له دغه عمل څخه واړوي او په افغانستان کې د جنگونو د اوږدیدلو او نورو ستونزو را پیدا کولو سببونه رامنځ ته نکړي بلکې د امنیت د شوراي د دائمي غړي په توگه د امن لپاره کار وکړي.

امیر المؤمنین: «مرا در مال مسلمانان حق نیست»

آورده اند که امیر المؤمنین حضرت عمر بن عبدالعزیز "رح" در زمان خلافت خویش وقتي از مال غنیمت مربوط بیت المال براي مستحقین مُشك توزیع مینمود، دست خود را بر بیني خود گذاشته رهگذر مشامش را مسدود نموده بود .

حاضرین تعجب نموده پرسیدند که : امیر المؤمنین به چه سبب مشام خویشرا بربسته است؟ در حالیکه از مُشك بوي خوش تراوش مینماید.

حضرت شان فرمودند : از بهر آنکه مرا در مال مسلمانان حق نیست و منفعت مُشك بوي آنست ، اگر بوي آن بمشامم رسد آنگاه از مال غیري بدون حق منفعتي گرفته باشم، نباید بقیامت به غرامت آن ماخوذ شوم .

دامونه او دروغ

پټې پاڼې

شهرت ننگیال

دوي دري ورځې کیږي چې د خروشچف خاطرات لاس ته راغلي چې له لیکلو او حتی فکر کولو یې هم پاتې کړي یم د فکر کولو خبره ښایي مبالغه وي ځکه خودا دي وایم چې له خیال پلونه یې پاتې کړي یم .

خروشچف دغه خاطرات هغه وخت کښلي چې د شوروي تیپ یوي پټې کودتا وروسته په کورکې تر څارنې لاندې نیول شوي، پدې اړه لیکي : زه لکه یو تارك دنیا داسې شوی یم ، پداسې حال کې چې په عمل کې له بهر سره هیڅ ډول اړیکې نشم ټینگولی بواځې هغه کسان لیدلای شم چې زما د څارنې له پاره ټاکل شوي دي.

د خروشچف خاطرات دده په ژوند په پټه توگه غرب ته رسیدلي او هلته په نورو ژبو ژباړل شوي دي .

ددغو خاطراتو په لوستلو سړی پوهیږي چې کمونیزم څه وړاووه لسیزې دو لسونو له احساساتو او ارمانونو سره لوبې کړي او د هغوي له بدې ورځې او ستونزو یې څومره ناروا گټه پورته کړې ده .

په زړه پوري داده چې هلته هر واکمن د یوې پټې کودتا او توطیې له لارې ایسته شوي، پدې توگه کمونیزم او کرملین د توطئو او سازشونو د سره شیطان ځاله گرځیدلی . یو وخت عراق د کودتا گانو هیواد بلل کیدل، د عبدالکریم قاسم ، عبدالسلام عارف، احمد حسن البکر، او صدام حسین کودتاگانې همداسې د کور دننه کودتا گانې گڼل کیدې وروسته افغانستان هم د کودتا گانو په هیوادونو کې ښې نومرې وگټلې خو د شوروي اتحاد دننه کودتاگانې لا هماغسې پټې ساتل شوي وي .

خروشچف د ستالین د مرگ په اړه لیکي : مور ته په تلفون خبر راکړي شو چې د ستالین طبیعت سم نه دی په بیړه مو ځانونه وروړسول د غولي په منځ کې پروت وو، داکتران مو راوبلل معلومه شوه چې یو اړخ یې فلج شوی دی.

که څه هم موږ باورنه کاوه چې ستالین به په ریښتیا هم نور له اخه ټوخه لویدلی وي ځکه خوبه شکمن شوو چې هسې نه هغه زموږ د ازمیښت له پاره کومې ټکې ته لاس اچولی دی خو داکترانو باوري کړو چې ستالین نور د رغیدونه دی. «بریا» چې له ستالین وروسته د لږ وخت لپاره د واك پر گدي کیناست لومړي مسوول شخص ؤ چې د ستالین په غیبت یې خوله پرانیستله خو کله چې ناڅاپه د ستالین سترگې یو څه وغړیدلي، دی یې پښو ته پریوت، لاسونه یې ورښکل کړل او جار قرباني یې پیل کړ، خو بیا چې ستالین پور پرې کړ، ده سملاسي پرې لاړې وغوړځولي او د «بوین سړي» نوم یې پرې کیښود.

د ستالین د مرگ خبر مطبوعاتو ته ورکړ : «د ستر لینین جنگیالي زړه د نبوغ او رسالت اتل، د انقلاب سترگور مشر او د گوند روح له درزید و پاتې شو ...»

خو لږ وروسته ولیدل شوه چې ستالین د جابر ، مستبدا و قاتل په تور له مرگ وروسته هم محاکمه شو، او خپله خروشچف د ستالین واکمنۍ د جنایت ، خیانت او شیطانت واکمنۍ وبلله.

خروشچف بل ځاي لیکي : ستالین دومره خطرناك سړی ؤ چې یو ځل پداسې حال کې چې موږ ته یې پام نه ؤ له ځان سره خبرې کولې ویل یې : ... زه په هیچا باور نه لرم تر دې چې زیاتره پر ځان هم یې باوره یم . لوستونکي پوهیږي چې کمونیزم او د شوروي اتحاد دړې وړې شوي امپراتوري د عقدو او اقتدار جنون د تسکین د هغه غریزي نوم ؤ چې مرستې یې ناشونې ښکاریده.

خروشچف له دې خبرې پرده پورته کړې چې څه وړیې هوښیار او ځیرك «بریا» له قدرت نه لیرې کړ، څه وړیې له تومانچو سره جنرالان کرملین ته ننیستل، او څرنگه یې خپله نقشه عملي کړه، څه ډول یې د بریا د وروستي اقدام مخه ونیوله چې نه توانید خپله وسله وچلوي، په ۱۹٦۱ کې د برلین دیوال د خروشچف کارنامه ده، په چکوسلواکیا ، مجارستان او کوریا یرغل ده د واکمنۍ یادگارونه دي.

«کیش شخصیت» هغه تور دی چې کمونستانو په ډیره آسانۍ پر یو بل لگولی دی دغه تور چې څرنگه خروشچف پر ستالین او بریا لگولی دغسې له قدرت نه دده د گوښه کیدو سبب شو، او د همدغه تور ژبندي دده غاړې ته ولویده، حفیظ الله امین دغه تور پر تره هم ولگاوه ، خروشچف دا څرگنده کړې چې څه وړیې جمال عبدالناصر تر خوږ گوته ونیو، څه وړیې مصر تعدروسي مشاورینواو مرستولاره پرانیستله.

دی لیکي : موږ خپلو نژدې انډیوالانو ته هم ریښتیا او حقیقت نه شو ویلی خو زموږ دروغ «مصلحت آمیز» دروغ دي چې زموږ مجبوریت دی .

خروشچف له مائو او چین سره د خپلو اختلافاتو ته هم پرده پرته کوي وایي چې مائو او ډله یې په حقیقت کې عظمت طلبه ناسیونالستان وو نه ریښتني کمونستان. مائو د چین د نفوس په ډیرښت ډیر ویاړ کاوه او په ډیرو قلقلو به یې دا خبرې کولې چې په چینایي ژبه کې یوه پردې کلمه هم نشته، پر چین چې کوم فاتح برید کړی هغه په چینایي ټولنه کې حل شوی او داسې نور. د چین له اختلاف پرته البانیا او یوگوسلاویا هم د کمونیزم د اوسپنیز دیوال د ننه خروشچف د مهارکولو سره کلك مخالفت درلود .

خروشچف لیکي : په افغانستان کې زموږ پانگه اچونه بیځایه نه ده کومې پیسې چې موږ په افغانستان کې لگولې هغه له اقیانوس نه یوه څاڅکی دی که داسې نه واي یو وخت به مجبور وو چې ددغه ټول اقیانوس مخه هغه لوري ته وروگرځوو که داسې مونه واي کړي بیا دي ته اړ ؤ چې له افغانستان سره پر اوږده سر حدي پوله ددغه مرستې په زرگونو چنده زیاتې پیسې ولگوو.

خروشچف د هغه توطیې په اړه هم خبرې کوي چې دی یې هم لکه بریا له صحنې لیرې کړی ؤ لکه تره کی ، امین او کارمل چې له صحنې لیرې شول، لکه کشتمند، حسن شرق او څمکنی چې را مخې ته شول او لیرې شول.

داکتر نجیب تر پایه پدې ونوانید چې خپل ذهن له هغو نقشو او توطیو ومینځي کومې چې شوروي اتحاد د سیاسي لوبو اواقتدار له پاره دده دذهن پر تخته کښلې وي دا هغه خطرناکې نقشې وي چې شوروي اتحاد یې دړې وړې کړ د همدغو نقشو تیرې بیرې کرښې وي چې مارکسیزم لینینیزم هم پکې لاره او لوري ورك کړ، دغه کرښې هغو لوسو او حال ته ورته وي چې تر ټولو دمخه خپل ایښودونکي پکې ونښتل، دغه گډ وډې کرښې لومې شوي دامونه شول او د دانو په اسره ورغلي ټول پکې ایسار شول.

کورنۍ فقه

د کوچنیانو ناڅکي او د لوبو نور سامان

پرله پسې (۳٦)

قاضي محمد حسن "حقیار"

کوچنیان او په ځانگړي ډول کوچنۍ انجونې د خپلې ساعت تیرې او د ځان د بوختولو لپاره له ځنو وسایلو نه کار اخلي، د خپلو لوبو لپاره ډول ډول سامانونه جوړوي چې یو ډول یې ناڅکي یا گوډیانې هم دي. کوچنۍ انجونې له ډول ډول رنگینو ټوټو نه ځانته گوډیانې جوړوي دا گوډیانې لکه چې ډیر و په لیدلي هم وي داسې وي چې څو وړې درخت ټوټې یې سره تاوې او راتاوې کړي او د انسان په شکل یوه څېره یې ترې جوړه کړې وي چې لاسونه او پښې یې هم ورته جوړه کړې وي او له تار نه یې ورته سترگې ، پوزه، خوله او غوږونه هم گنډلي وي، اوس سره ددې چې په اکثرو ځایونو او په ځانگړي ډول په کلیوالو کوچنیو انجونو کې دا د رخت یا ټوټې ناڅکي هم رواج دي اکثره په بازارونو او فابریکو کې له پلاستیك نه هم جوړیږي . نه یوازې دا چې پلاستیکي گوډیانې جوړوي بلکه د لوبو نور ډول ډول سامانونه د ساه لرونکو او بې ساه شیانو په شکل جوړوي د بیلگې په ډول لکه پیشوگانې، غواگانې ... نو آیا دا په بتانو کې راځي ؟ د لوبو له دې سامان سره ځان بوختول څه حکم لري ؟ په کور کې ساتل یې روا دي او که روا ندي ؟

په دې هکله بایذ وویل شي چې کومې مجسمې جوړول یا لوی لوی او د ساه لرونکو موجوداتو عکسونه چې اسلام منع گرځولي دا هغه مجسمې دي چې ورته د تعظیم او تکریم ویره وي یا هغه مجسمې چې خلك د بت پالنې او شرك خواته کشوي یا د بت پالو او بت جوړونکو سره په کې مشابهت وي چې ددې ټولو بنسټ او وروستۍ محوري ټکې هماغه دی چې خلك له شرك او د الله «ج» پرته بل ته له تعظیم او تکریم نه خلاص وي او په همدې خاطر هغه ټولې لارې بندول غواړي چې دې خواته تللي دي او د کوچنیانو له گوډیانو او ناڅکو څخه دا ویره نه محسوسیږي او نه یې څوك په دې خاطر په خپل کورکې ساتي نو د دا ډول مجسمو د حرمت په هکله دلیل نشته په صدر د اسلام کې هم دا گوډیانې او ناڅکې وې او کوچنیانې به ورسره لوبیدلې خو په دې خاطر چې چا ورته چندان د اهمیت په سترگه نه کتل او نه چا ناڅکو او گوډیانو ته سجده یا تعظیم کاوه نو رسول الله «ص» هم ترې پدنه نسل.

ام المؤمنین حضرت عایشه «رض» د واده په لومړي وخت کې کم عمره او کوچنۍ وه او انجونو سره به لوبیده له حتی له واده وروسته به هم دده همزولې کوچنیانې ددې «رض» کورته ورتللې او په گډه به یې سره په ناڅکو لوبې کولې خو رسول الله «ص» نه خپله میرمن حضرت عایشه «رض» له لوبو څخه ایساره کړله او نه له گوډیانو څخه او نه یې نورې کوچنیانې ایساري کړلې.

حضرت عایشه «رض» فرمایي چې : « کنت العب بالبنات عند رسول الله «ص» و کان یأتیني صواحب لي ... یعنې « ما به د رسول الله «ص» په شتوالي (موجودگی) کې له انجونو سره لوبې کولې زما ملگرې به راتللې او بیا به د رسول الله «ص» له ویرې چپ پاتې وې په داسې حال کې چې رسول الله «ص» به زما خواته د هغوي په راتللو خوښیده بیا به دې انجونو زما سره لوبې کړلې » متفق علیه .

په یو بل روایت کې راغلي دي چې « ان النبي «ص» قال لها یوماً : ما هذا ؟ قالت بناتي ... » یعنې :« رسول الله «ص» یوه ورځ له عایشې څخه وپوښتل چې دا څه دي ؟ هغې ورته وویل چې دا زما ناڅکي دي . رسول الله «ص» ترې وپوښتل چې دا په منځ کې یې څه دي ؟ حضرت عایشې «رض» ورته وویل چې آس دي. هغه «ص» بیا وپوښتل ددې آس د پاسه څه دي ؟ هغې ورته ځواب ورکړ چې : دوه وزرونه دي ؟ رسول الله «ص» وفرمایل چې آس او د هغې دوه وزرونه هم ؟ حضرت عایشې ورته وفرمایل چې ایا تا نه دي اوریدلي چې د سلیمان د داود علیهما السلام د زوي آس وو او څو وزرونه یې درلودل : رسول الله «ص» چې دا واوریدل نو دومره یې وخندل چې له ډیرې خندا نه یې نواجذ غاښونه ښکاره شول . ابو داود

د نیل الاوطار مصنف حضرت امام شوکاني فرمایي چې : له دې حدیث شریف څخه ښکاري چې د کوچنیانو د لوبو سامان او ناڅکي په شانو کې نه راځي او له دې سامان سره لوبیدل ورته روا دي.

قاضي عیاض وایي چې کوچنیانو ته له گوډیانو او ناڅکو سره لوبیدل روا دي خو د امام مالك په گومان د کوچنیانو لپاره د دا ډول سامان پیرل مکروه دي.

کوم سامان چې اوس د کوچنیانو د لوبو لپاره بازار ته وړاندې شویدي او اکثره یې له پلاستیك څخه جوړ شویدي نو دا هم په هماغو ناڅکو قیاسیږي چې رسول الله «ص» ورته اجازه ورکړې وه .

بله خبره داده چې د رسول الله په وخت کې شرك او بت پالنه ډیره وه د توحید وړانگې د اوس په څیر لا په مکمل ډول خپرې شوې نه وې جهالت او ساده گي هم دومره ډیره وه چې حتی خلکو به داسې څه ته هم سجده کوله او خپل خداي به یې باله چې سحر به یې په خپل لاس جوړ کړ او غرمه او یا مازدیگر به چې وږې شو نو خپل هماغه خداي به یې خواړه چې سحر به یې ورته سجده کوله .

نو اوس الحمد لله د توحید او د اسلام انوار د نړۍ گوټ گوټ ته رسیدلي دي اسلام هم خلکو ته دهوښیارۍ ، تدبر او ذکاوت درس ورکړ او ساینس او تکنالوژي هم د خلکو سترگې خلاصې کړې نو اوس ناڅکو یا پلاستیکي پیشو او زمري ته د سجدې احتمال لیرې ښکاري نو په دې هکله توجه په کار ده .

در موقع آببازي در صورت وقوع حادثه چه باید کرد ؟

در جمله ورزش هاي تابستاني در کشور ما یکي هم آببازي است. بعضاً نسبت جزئي ترین بي احتیاطي و عدم توجه خطراتي متوجه شناوران گردیده و حیات شان را غرق شدن در آب تهدید میکند و یا اینکه در اثناي دایف کردن بین حوض در اثر تصادم با بعضي اشیا از قبیل سنگ و غیره ضربات شدیدي به سر و یا بعضي اعضاي بدن وارد گردیده و باعث خطرات زیادي مي گردد. در اثر این بي احتیاطي صدمه، شدیدي به جمجمه ، استخوان دست و یا بعضي قسمت هاي دیگر بدن میرسد که لازم است پیش از آنکه به چنین عمل دست بزنید باید تمام مقررات آببازي را فرا گرفت و هم در نظر داشته باشید که قسمتي را که در آن دایف مي کنید از هر نگاه بي خطر باشد.

در صورت وقوع کدام حادثه لازم است شخص صدمه دیده را فوراً از آب بیرون نموده و به کمکش برسید. کشیدن از آب مي بآید قسمي صورت گیرد که غرق شده از سمت عقبي آن در بغل گرفته و از آبش بیرون سازید و تا زمانیکه طبیب برسد و یا او را به شفاخانه برسانید بهتر است او را به تخت پشت به روي زمینه بخوابانید و فك تحتاني را از قفاء بسوي خود بکشید.

اگر مي خواستید او را به شفاخانه برسانید در آن صورت مریض را به روي تخته چوبي به پشت خوابانیده و سر او را بلند تر قرار دهید که تکاني به او نرسد.

باید به خاطر داشته باشید نقل دادن مریض بالاي شانه و از زیر بغل آن گرفته برایش خطر دارد . و با بلند کردن و پائین کردن سر مریض و یا اینکه مریض را در حال نشسته نقل دادن برایش خطراتي بار خواهد آورد.

صحت و سپورت

هیله ده چي ورزشي لوبغاړي ...

داکتر باز محمد «ښادمن»

دا ځل د هاکي نړیوال کپ هالیند ویووړ په اخیر کي یې د سپین ټیم ته د دوو په مقابله کي په دریو گولونو ماتي ورکړه اود پاکستان یو مشهور لوبغاړي شاهد خان اپریدي ویلي دي چي مونږ به په ۱۹۹۹ کال کي د کرکټ کپ گټو او زیاته کړي یې ده چي د پاکستانیانو په استعداد کي کمزوري نشته . همدارنگه اظهر الدین د هندوستان د کرکټ کپتان دعوه لري چي مونږ تر هر چا قوي استعدادونه لرو.

افغانستان چي په سپورتي لوبو کي ډېره پخواني سابقه لري که د کابل مجله د دویم کال دریمه گڼه ۱۳۱۱ هـ ش ٦٢ او ۷۰ مخونه وکتل شي د حربیه وزارت د والیبال او هاکي ټیمونه به ووینئ چي ډېر مجهز او له قوي ځوانانو جوړ شوي وو. ځرنگه چي افغانان په هر ځه کي بر لاسي دي او په سپورتي لوبو کي ډېره سابقه لري اوس یې کولاي شول چي په نړي کي تر ټولو ورزشي ټیمونو مخ ته واي له بده مرغه ډېره موده سپورت د چارواکو له نظره لویدلي و او د وخت خرابوالي افغاني ورزش کاران ډېر شانه راوستلي و. اوس ډېره توجه په کار ده . موږ وینو د وزیر اکبر خان مینه په پارك د نوي ښار په پارك او همدارنگه د کابل په نورو ځایو کي کرکټ ، والیبال، فوتبال او داسي نورې لوبي کیږي مگر هغه ټولي نا منظمي دي او هر ځوك ځان ځانته ولاړ وي ځیني ځایونه ټیمونه هم پوره نه وي که همدغه لوبي تنظیم شي امکان شته چي افغاني استعدادونه په کار ولویږي او په اینده کي د نړي تر ټولو ورزشي ټیمونو مخ ته او اتلان شي. اوس چي د اسلامي امارت د مشرانو زیاته توجه ورزش ته شوي ده هغه د قدر وړ ده هیله ده چي ورزشي لوبغاړي د وخت ځخه په گټه اخستلو ډېري کامیابي ترلاسه کړي .

پولیو یا د کوچنیانو د فلج ناروغي

داکتر محمد نذیر «احمدزي»

پولیو یوه خطرناکه ویروسي ناروغي ده چه په ټوله نړي کي لیدل کیږي د ناروغي عامل د PEC-ENTEROVI- ONA VIRUS د کورني -RUS ډوله RNA لرونکي ویروس دي چي د کوټي په حرارت کي تر څو ورځو پوري ژوندي پاتي کیدي شي . دا ناروغي له یوه انسان ځخه بل انسان ته سرایت کوي ، د مرض عامل د ناروغي له شپږمي هفتي وروسته د ناروغ په غایطه موادو کي چاپیریال ته اطراح کیږي چي د غذایي موادو او د خوړو د لوښو د ککړیدوله کبله په مستقیمه توگه او یا د غایطه موادو ځخه د مچانو پواسطه په غیر مستقیمه توگه د نورو کسانو د ناروغي سبب گرځي. دا ناروغي د دوبي په موسم کي ډېره لیدل کیږي د ناروغي عامل د خوړو په ذریعه د خولي له لاري هضمي جهاز ته رسیږي او په کولمو کي تکثر کوي وروسته له ځه فعالیت ځخه ویني ته داخلیږي اود ویني د جریان له لاري عصبي سیستم تر حملي لاندي راولي.

ناروغي یا په حقیقه توگه سیر کوي او یا هم کیدي شي چي شدید سیر وکړي او د فلج سبب شي.

په خفیف شکل کي یې تبه ، د سر درد ، د ستوني درد ، کانگي د نس درد ، بې اشتهایي، زړه بدوالي (دلبدي) او د ستوني خفیف احتقان (سوروالي) منځته راځي خو عصبي نښي نښاني نه لیدل کیږي.

د ناروغي شدید ډول له عصبي آفاتو سره یو ځای وي چي

۱- ددماغ د پوس (سحایاو) له التهاب (د ناروغ غاړه شخه پاتي وي د سر درد، د ملا درد، کانگي او زړه بدوالي لري) سره یو ځای وي او ناروغ ماشوم د نورو له مرستي پرته په بستر کي کښیناستلي نشي که ناروغ ته ووایي چي خپل زنگون ښکل کړي د ملا د شخوالي له کبله خپل زنگون نشي ښکلولاي او همدارنگه که ماشوم له بستر ځخه پورته کړي سربي بیرته غورځیږي یعني خپل سرنشي نیولاي.

۲- ممکن د ملا تیره اعصابو فلج منځته راشي.

۳- کیدي شي د مرکزي عصبي سیستم د مصابیت سبب وگرځي چي په دغه حالت کي د حنجري د عصبي کمزورتیا له کبله ناروغ په خوړلو او ساه اخیستلو کي مشکلات لري که ناروغ ته اوبه ورکړل شي بیرته یې له پوزي رابهیږي او تیرولاي یې نشي همدارنگه د تنفسي او قلبي سیستمونو د اخته کیدو له کبله ناروغ د شاك او بیخودي حالت ته رسیږي او د دماغ د اخته کیدو په سبب اختلاجي (میرگي ډوله) حملي، بیهوشي او کوما منځته راتلي شي.

وقایه او ژغورنه : فقط د واکسین په ذریعه خپل ماشومان ژغورلاي شو دا ځکه چي د ناروغي عامل ویروس ده او ویروسي ناروغي تر اوسه کومه اغیزمنه درمل نلري نو خپل ماشومان هیځکله بي واکسینه مه پریږدي دا واکسین د ماشوم د ژوند په دوهمه، ځلورمه او شپږمه میاشت کي تطبیق کیږي او د ښه موثریت په خاطر د پنځلسمي او اتلسمي میاشتي تر منځ او په ښوونځي کي له داخلیدو نه مخکي د پولیو د واکسین تطبیق ضروري دي د پولیو واکسین د عامي روغتیا د پروگرام له مخي وړیا تطبیقیږي خو په وړیا سترگه مه ورته گوري دا ځکه چي همدا یو ځانگکي واکسین له فلج ځخه د ماشوم د ژغورني سبب گرځي نو فکر وکړي چي دا ځانگکي څومره اورښت لري او دا واکسین څومره مهم نعمت دي که خداي مکړه واکسین موقع کړیا په ملیونونوالروهمدخپل ماشوم علاج نشي کولاي.

همدارنگه په پولیو د اخته ماشومانو غایطه مواد په مناسب ځاي کي ښخ کړي او د مچانو تماس ته یې مه پریږدي د ناروغ پواسطه استعمال شوي لوښي په ویشیدلو اوبو او صابون پریمنځي او د ناروغ ماشوم تغذیي او حفظ الصحیي ته کلکه پاملرنه وکړي او د ناروغ د راتلونکي په هکله په متخصص داکتر ځخه مرسته وغواړي.

معلومات در مورد مرض محرقه

خوانندگان عزیز! اینبار جهت معلومات بیشتر شما در مورد مرض محرقه مصاحبه اي را با محترمه دوکتورش فهیمه ایوبي داکتر موظف در شفاخانه صحت طفل انجام داده ایم که با هم آنرا به خوانش میگیریم :

سوال : لطفاً در مورد مرض محرقه و چگونگي سرایت و انتقال آن به سایر اشخاص صحتمند صحبت نمائید !

جواب : مرض محرقه از جمله امراض انتاني بوده وقوعات آن در ممالك گرمسیر به خصوص در مناطق که حفظ الصحه فردي در سطح پائین قرار داشته باشد بلند است .

عامل مرض یك نوع باکتري بوده که بنام سلونیلا تایفي یاد میشود ، شخصي مریض و ناقلین عامل مرض را در ادرار و مواد غایطه شان اطراح میکنند. غذا و آب توسط دست هاي مریض، ناقل و یا مگس ها ملوث شده ، انتان از طریق بلع نمودن مواد غذایي، آب و شیر منتن به اشخاص دیگر انتقال میکند. مرض تا زماني که شخص مریض یا ناقلین عامل مرض را در مواد غایطه و ادرار اطراح مینماید قابل سرایت است که بعضي از مریضان الي مدت سه ماه عامل مریض را اطراح میکنند اما بعضي از این ها به ناقلین دایمي تبدیل میگردند مرض در تمام فصول سال دیده شده اما وقوعات آن زیاد درماه هاي گرم سال دیده میشود. اپیدیمي هاي مرض در مواقعي که ازدحام زیاد باشد و ذخیره هاي آب منتن شده باشد دیده میشود عامل مرض بعد از این که داخل جهاز هضمي گردید غشاي مخاطي را عبور نموده و در نسج لمفاوي تحت مخاط تکثر نموده و بالاخره داخل دوران خون میگردد ، با داخل شدن میکروب در دوران خون نزد مریض تب ظاهر میگردد. از سبب انتشار عامل مرض در اعضاي مختلف مانند جگر، شش ها، طحال و غیره تغیرات ساختماني و وظیفوي در اعضاي فوق بوجود مي آید.

دوره تفریخ مرض در حدود ۷-۲۱ روز بطور اوسط ١٤ روز میباشد. مرض در هر سن و سال دیده شده اما نزد اطفال کمتر از دو سال به نسبت اینکه چانس کمتر دارند تا غذا هاي خارج از منزل را استفاده نمایند مرض کمتر دیده میشود.

سوال : در مورد اثرات مرض محرقه بالاي مریض و تغییراتي که در مریض بوجود میآید صحبت نمائید.

جواب : مهمترین علایم مرض تب میباشد که اکثرا بصورت تدریجي شروع شده اما بعضاً بصورت آني با بلند رفتن سریع درجه حرارت، سردردي و استفراغ شروع میگردد.

تب مریضان اکثراً بصور دوامدار میباشد نزد مریضان قبضیت معمول بوده اما در نزد بعضي مریضان ممکن اسهال و درد بطن دیده شود. زبان مریضان در قسمت مرکز بار دار بوده اما کنار هاي آن صاف و لشم است . نبض مریضان ممکن سریع گردد بعضاً در جلد مریضان بعضي خال هاي سرخ رنگ دیده میشود ولي براي یك مدت کوتاه دوام میکند بطن مریضان اکثراً انتفاخي میباشد طحال مریضان در اضافه از ۲ بر ۳ آنها یك اندازه بزرگ میگردد اگر توکسیمیاي مریض شدید باشد شعور مریض خراب گردیده یك حالت خواب آلوده گي داشته و هزیان میگوید .

مرض محرقه سبب ماوفیت تمام سیستم هاي بدن انسان شده میتواند که عبارتند از :

۱- از اثر خرابي حفظ الصحه دهن و دندان سبب التهاب غده تکفیه میشود. ۲- در سیستم قلبي سبب میوکاردیت میشود. ۳- سبب التهاب جگر، جگر شحمي و التهاب طرق صفراوي میشود. ٤- در سیستم هضمي سبب اسهالات، سوراخ شدن روده ها و به تعقیب آن پریتونیت و همچنان سبب خونریزي جهاز هضمي شده میتواند. ۵- در سیستم تنفسي سبب سینه و بغل، برانشیت و احتشاي شش ها شده میتواند. ٦- در سیستم عصبي سبب امراض وخیم چون مینلنجیت ، اینسیفلیت ، ترومبوز اورده دماغي که عواقب وخیم در قبال دارد، التهاب اعصاب محیطي و از دست دادن قدرت تکلم میشود. ۷-- سبب التهابات قیحي مفاصل و -Oste omyelitis شده و همچنان سبب بعضي تظاهرات و تغییرات دیگر مانند ریختن مو ها بصورت موضعي میشود.

سوال :تداوي و وقایه مرض محرقه چیست ؟

جواب : در صورت که مریض تداوي نشود مرض در حدود سه هفته دوام نموده و وفیات ۱۰٪ میباشد اما هرگاه بصورت درست و مناسب و به موقع تداوي مرض صورت گیرد وفیات به کمتر از ۱٪ میرسد.

هر گاه نزد طفل شما علایم فوق دیده شود هر چه زودتر نزد دوکتور مراجعه نمایید تا تداوي مناسب مرض صورت گیرد. از تداوي هاي خود سرانه، دادن ادویه ضد تب بدون هدایت داکتر، دادن انتي بیوتیك بصورت خود سرانه و پرهیز غذا جلوگیري گردد. زیرا مرض محرقه تداوي خاص داشته و باید مطابق آن عمل گردد. در جریان مرض به مریضان غذاهاي غني از کالوري، پروتین، آهن، ویتامین ها باید داده شود. حفظ الصحه مراعات گردیده دهن مریضان شسته شود دندان ها برس گردد تا از تفسخ جلوگیري صورت گردد. مریضان نباید بصورت دوامدار در یك وضعیت در بستر بمانند، مایعات کافي باید براي مریضان داده شود.

در مورد وقایه آن باید گفت که د، قدم اول مراعات نمودن حفظ الصحه در وقایه مریضان رول عمده داشته که باید در نظر داشت . مریضان معرقه باید تجرید گردیده، سامان و لوازم و ظروف که استعمال مینماید باید ضد عفوني شود، ادرار و مواد غایطه آنها باید در جا هاي مناسب جابجا شده و یا دفن گردد و اشخاص که با مریضان در تماس اند باید واکسین ضد محرقه نزد شان تطبیق گردد.

تداوي خونریزي (انزفه)

دکتور عبدالعزیز «گلستاني»

بصورت عموم تداوي خونریزي را بدو دسته تقسیم کردمیتوانیم:

۱- طرق موقتي توقف خونریزي ۲- طرق دایمي توقف خونریزي

ا- طرق موقتي توقف خونریزي :

الف - بلند نگهداشتن ناحیه خون دهنده .

ب - تطبیق بنداژ تحت فشار .

ج- قبض نمودن مفاصل .

د- فشار دادن شرائین توسط انگشت.

هـ - تطبیق تورنیکیت

و- تطبیق موقتي کلمپ یا پنس

این میتود ها نظر به استطباب آنها در جا هاي مختلف بدن به شکل واحد یا مشترك استعمال میگردد در واقعاتي که خونریزي مربوط اوعیه بزرگ باشد این میتود ها خونریزي راتوقف داده نمي تواند.

۲- طرق توقف دایمي خونریزي :

تمام میتود هاي توقف دایمي خونریزي را میتوان به چهار دسته تقسیم نمود :

۱- میخانیکي ۲- حرارتي ۳-کیمیاوي ٤- بیالوژیکي

براي توقف خونریزي بسیاري اوقات از دو یا چند میتود استفاده میشود در بسا اوقات براي توقف خونریزي به عملیات هاي مختلف از قبیل لاپاراتومي، توراکوتومي و تریپا ناسیون وغیره استفاده میشود

۱- میتود هاي میخانیکي توقف دایمي خونریزي :

لیگاتور (گره کردن) نهایت پروکسیمال (نزیك به قسمت مرکزي بدن) اوعیه قطع شده یا لیگاتور اوعیه در مسیر آن، دوختن اوعیه، تامپون گذاشتن ، گره زدن اوعیه درجرحه مخصوصاً در موقع عملیات، لیگاتور اوعیه در مسیر آن و حتي مورد استفاده قرار میگیرد که اوعیه مجروح را در جرحه نتوانیم پیدا نمائیم مخصوصاً در نهایت شریان منقبض گردیده که در بین عضلات مفقود شده و یا اینکه گره زدن آن در بین جرحه اطمینان بخش نباشد دوختن اوعیه یا پیوند معاوضوي آن بواسطه ورید یا مواد مصنوعي مداخلات مفید و قانع کننده میباشد.

در بانك ها پارچه هاي شریاني در شرایط مخصوص محافظه شده یا از شرائین پلاستیکي و یا شریان هاي دکروني نیز در دوختن اوعیه استفاده میشود .

طریقه توقف با گذاشتن تامپون : در صورتیکه از هیچ یك از این طریقه ها استفاده شده نتواند ناحیه خون دهنده را توسط تامپون که از گاز ململ تهیه شده تحت فشار قرار میدهیم تامپون ٤٨ ساعت بعد باید از جرحه خارج ساخته شود

۲- طریقه حرارتي توقف دایمي نزف : این میتود ها نظر به خواص حرارت سرد که سبب سپازم اوعیه و حرارت بلند که سبب تحثر پروتین ها میگردد متکي میباشد و خونریزي را متوقف مي سازد براي سرد ساختن انساج و انقباض اوعیه از آب سرد ، برف، یخ، دربین مشکوله انداخته شده استفاده مي شود ، از سامان مخصوص برقي جهت کلواگولیشن اوعیه خورد نیز استفاده میشود که حرارت بلند را بوجود آورده سبب کواگولیشن شده و خونریزي توقف مینماید.

۳- طریقه هاي کیمیاوي توقف نزف : دربن میتود از مواد کیمیاوي که باعث انقباض اوعیه گردد و یا اینکه تحثر خون را سرعت بخشد استفاده میشود مثلاً ادرینالین که سبب انقباض اوعیه میگردد استعمال آن به غلظت ۱ بر ۱۰۰۰ براي توقف خونریزي غشاي مخاطي بصورت ناحیوي نیز مورد استفاده قرار میگیرد ادویه که قدرت لخته شدن خون را بلند میبرد محلول ۱۰٪ کلسیم کلوراید و کلسیم گلوکونات

۲- محلول ۵٪ سودیم کلوراید و گلوکوز ۳۰٪ نیز خونریزي را توقف میدهد

۳- در خونریزي هاي که مربوط به بلند رفتن خاصه فیبرینولیتیك خون باشد میتوانیم ازاسیدامینوکپروئیك استفاده کنیم

٤- میتود هاي بیولوژیکي توقف دایمي خونریزي : این میتود را بدو دسته تقسیم میکنند :

الف- تامپون نمودن ناحیه خون دهنده توسط انساج عضویت مثل Omentum عضله، شحم، Fascia و غیره

ب- توسط تزریق خون پلازماي،فیبرینوجن،ترومبوسیتهاوغیره

ج- توسط زرق کردن ویتامین ها k و C

د - استعمال ناحیوي موادیکه از خون گرفته شده، ترومبین و دیگر تامپون هاي بیولوژیك .

هـ - تزریق پلازماي حیواني یا انساني. این اشکال توقف خونریزي بیولوژیکي استطباب و شرایط استعمال مخصوص دارند. نقل الدم ۱۰۰ الي ۲۰۰ سي سي خون تازه کانسروشده نیز تاثیرخوب دارد

- فیبرینوژن از جمله پروتین هاي خون است در فعل تحثر خون رول دارد که از پلازماي خون بدست مي آید شکل ظاهري آن پودر سفید رنگ بوده در محلولات ایزوتونیك زود حل مي شود که به شکل تعقیم به مقدار یك الي دو گرام در بوتل هاي ۱۰۰ ملي لیتر گنجانیده شده در محلول اریزوتونیك (سیروم فزیولوژیك) حل شده در ورید زرق مي شود استعمال ویتامین هاي K و C در تداوي خونریزي قرحه معده مؤثر است .

- یك تعداد ادویه که در ناحیه عملیاتي تطبیق میشود مانند، ترومبین، پودر هیموستاتیك غشایي فیبرین دار و غیره

- تامپون هاي بیولوژیکي انتي سپتیك دار نیز مورد استعمال است .

در تمام این ادویه ها فکتور هاي توقف دهنده خون به اشکال مختلف وجود دارد نظر به استطباب مختلف و اشکال گوناگون بصورت موضعي مورد استفاده قرار میگیرد.

طالبانو اسلامي نظام ...

قاضي محمد امين وقاد د خپځ زون د تنظيمه رياست له مرستيال او د ننګرهار ولايت له مرستيال محترم مولوي صدراعظم سره د جلال اباد په ښار کي د کتني په ترځ کي څرګند کړ . محترم قاضي محمد امين وقاد وويل : الحمد لله د درنو طالبانو د اسلامي تحريك په بريالیتوب سره په ګران هيواد افغانستان کي اسلامي حکومت واکمن او د هيواد په سلو کي په څه د پاسه اتيا خاوره کي د ډاډمني سولي او امنيت له ټينګښت سره جوخت محمدي غرا شريعت نافذ شوي دي چي دا د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلکو پوازني هيله او ارمان و چي د دوي په ګران هيواد کي رښتيني اسلامي حکومت واکمن شي.

وروسته محترم مولوي صدراعظم د افغانستان د ديندارو خلکو د ځوارلس کلن مقدس جهاد د اهميت او ارزښت په باره کي خبري وکړي او زيانه يي کړه چي د هيواد د مسلمان ملت جهاد نه هيريدونکي دي او موږ د قدر په سترګه ورته ګورو .

د احمد شاه مسعود په هکله ...

کتاب د (روسي فوځونه په افغانستان کي) تر عنوان لاندي خپور کړي په دغه کتاب کي ګروموف له ډيرو پټو رازونو څخه پرده پورته کړيده چي ځو مهم او حيرانوونکي ټکي يي دا دي ګروموف ليکلي کله چي د حيرتانو له لاري زموږ د پوځونو لومړي ډله تيريدله نو خاد له مسعود سره رابطه ونيوه خو احمد شاه مسعود له خاد سره له خبرو کولو انکار وکړ او وي ويل چي زه پوازي له روسانو سره خبرو ته تيار يم چي بيا موږ له ده سره خبري وکړي ګروموف ليکي چي موږ مسعود ته ډير وړانديزونه وکړل چي ټول د مسعود له خوا ومنل شول او په يوه معاهده مو لاس ليك وکړ له معاهدي وروسته زموږ فوځونه ډله ډله د سالنګ له لاري کابل ته داخل شول.

ګروموف وړاندي ليکي چي احمد شاه مسعود له لومړي معاهدي وروسته زموږ له هر راز نظامي او اقتصادي مرستو څخه برخه من وو خو کله کله به د نورو مجاهدينو د غولو لو په غرض له موږ سره هم جنګيده .

ګروموف زيانه کريده چي مسعود که څه هم په ظاهره په اسلامي احکامانو ډير پابند ښکاريده مګر زموږ د خفيه ريپوټونو له مخي ده به کله کله له خپلو دوستانو سره په پټه شراب هم څښل .

ګروموف ليکي : احمد شاه مسعود د پنجشير له غرونو څخه قيمتي کاڼي بهر ته د پلورلو په غرض ليږدول چي ډيره سرمايه يي له دي لاري تر لاسه کړه، احمد شاه مسعود له فرانسي سره خاص اړيکي لرل، چي د فرانسي د پريس په مرسته د ډير شهرت څښتن شو.

ګروموف ليکي موږ لومړي په ده يي باوره وو چي هسي نه له معاهدي څخه خلاف ورزي وکړي خو څرنګه چي دي ډير وفادار او کلك سړي دي تر آخره يي د شوي معاهدي په ټولو بريکړو وفا وکړه چي موږ به تر عمره عمره د مسعوددا وفاداري لمروسي فوځونو سره هيره نکړو.

اجساد ۲۵ تن از کشته ...

شده گان شان را در ميدان نبرد باقيمانده بود که با در نظر داشت سياست اسلامي و صلحجويانه امارت اسلامي افغانستان اجساد کشته شده گان مخالفين از جانب مسؤولين امارت اسلامي به ايشان تسليم داده شد.

به ارواح شهدأ قربانيان زلزله ولايات تخار و بدخشان ختم قرآن عظيم الشان در رياست ادره امور صورت گرفت

خبرنگار هفته نامه شريعت خبر ميدهد : به خاطر اتحاف دعا به ارواح شهدأ قربانيان زلزله ولايات تخار و بدخشان ختم قرآن شريف در رياست عمومي اداره امور شوراي سرپرست امارت اسلامي افغانستان داير گرديد که در آن عده يي از مسوولين امارت اسلامي از جمله الحاج مولوي محمد طاهر انوري رئيس عمومي اداره امور در رابطه به موضوع سخنراني نموده گفت : بر مسلمين جهان از جمله براي ملت مومن افغان لازم است تا بدرگاه رب العزت «ج» زاري و تضرع نموده و از گناهان گذشته خويش طلب بخشش نمايند. بزرگترين اصلاح جامه اصلاح فردي بوده هر مومن و مسلمان مکلف است تا خود و اعضاي خانواده خود را به احکام خداوني آراسته گرداند.

در خاتمه از بارگاه خداوند«ج» اجر عظيم براي شهيدان واقعه مذکور صبر جميل براي بازماندگان و اقارب شان استدعا و آرزو گرديد.

محفل با دعائيه توسط محترم مولوي محمد سليمان معاون رياست عمومي اداره امور خاتمه پذيرفت.

سل کلن موټر چلوونکي خپل لايسنس نوي کړ

د نړي د زيات عمر خاوند موټر چلوونکي د خپل عمر په سل کلني کي د موټر چلولو لايسنس نوي کړ .

نوموړي چلوونکي چي جوږ په کوکولو ليرا نوميږي د هسپانيي اوسيدونکي او د دغه هيواد د مطبوعاتو له خوا د ستاينې وړ وګرځيد .

کوکوليرا وويل عمرا وکال له موټر چلولو نه د لاس کښلو او يا بندولو دليل نه شي کيداي او تر اوسه پوري د ورځي څو ساعتو خپل شخصي موټر چلوي.

کوکوليرا خپل لومړني لايسنس په ۱۹۳۱ ميلادي کال کي تر لاسه کړي او اتلس کاله يي ټکسي موټر چلولي دي.

" بايد وويل شي چي په ۱۹۳۰ ميلادي کال د لايسنس د اخستلو لپاره د موټر چلوني په آزموينه کي پنځه ويشتمه تنه موټر چلوونکي اصلي هدف ته ورسيدل .

د کلنګار ټيم د بره کي او خراسان له ټيم نه لومړي مقام وګاټه

د لوګر ولايت ورزشي ټورنمنټ د کلنګار د جهادي مدرسي د واليبال په ميدان کي پيل شو .

په دغو لوبو کي د لوګر ولايت له بيلا بيلو ولسواليو نه د واليبال شپاړس ټيمونو ګډون کړي و چي په نتيجه کي د کلنګار ولسوالي ټيم لومړي مقام د بره کي برك د مدرسي ټيم د ويم مقام او د خراسان ټيم دريم مقام وګاټه او د لوبو په پاي کي بريالبو ټيمونو ته ورزشي جايزي هم ورکړل شوي.

کار جغل اندازي و ترميم سرك شهر هرات آغاز گرديد

کار جغل اندازي و ترميم سرك شهر هرات آغاز گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد سرك متذکره به همکاري رياست احيأ و انکشاف دهات ولايت هرات به مصرف پنجصد مليون افغاني از بودجه موسسه هيئات و به کمك مردم آن ولايت پيشبرده ميشود.

در محفلي که به همين مناسبت داير گرديده بود محترم حاجي عبدالستار رئيس احيا و انکشاف دهات ولايت هرات در رابطه به اقدامات امارت اسلامي افغانستان جهت باز سازي کشور صحبت نموده از مردم آن ولايت خواست تا در کار سرك مذکور همکاري نمايند.

يك مقدار سلاح و مهمات از ...

موظفين قوماندانی امنيه ولسوالي پغمان از قريه پشه اي آن ولسوالي بدست آمد.

سلاح و مهمات بدست آمده به مرجع مربوط آن تسليم داده شد.

طبق يك خبر ديگر يك مقدار سلاح و مهمات اخيراً از مربوطات ولايت پکتيکا کشف و بدست آمد .

سلاحها و مهمات متذکره شامل يك ميل هاوان وسط ، توپ ۷۲ ملي متري، يك ضرب ، راکت آر . پي . جي روسي يك قبضه ، مرمي بي ام . يك ۹۲۰ فير، مرمي هاوان وسط ۷۹ فير، مرمي راکت آر.پي.جي. روسي ٤٥ فير ، دو صندوق مين ضد پرسونل بوده که در اثر فعاليت موظفين امنيتي ولايت پکتيك از ولسوالي ارګون آن ولايت کشف و بدست امده است .

د هند او پاکستان د ...

کوم ريوټ نه دي ورکړل شوي. د تفصيلاتو له مخي ويل کيږي چي د جمو په سيمه کي هندي سرحدي پوځيانو د پاکستاني پوځيانو په سنګرونو باندي بي موجبه ډزي پيل کړي چي پاکستانيو پوځيانو هم د ځوابي حملي په وخت د هندي پوځيانو په سنګرونو باندي مرمي واورولي. دواړو غاړو يو پر بل باندي د توپونو او ماشينګنو ګولي چلولي دي.

په عراق د لګول شويو ...

د ليبي کيدو په سر به هم مذاکرات وکړي. رچرد بټلر به ددغه ځلور ورځني سفر په ترځ کي د عراق د صدراعظم د مرستيال طارق عزيز څخه علاوه د نورو لوړ رتبه عراقي مشرانو سره کتني وکړي داسي ويل کيږي چي عراق ته د رچرد بټلر اوسني سفر به ډير مهم وي ځکه د هغه سره به د پلټني د ماهرينو يوه لويه ډله هم ملګري وي، ويل کيږي چي د رچرد بټلر په اوسني دوره کي به پر عراق باندي د لګول شويو بنديزو د ليري کولو او يا دوامدر کيدو په اړه هم مذاکرات وشي.

د ايران په انقلابي...

عراق کي ميشتي مجاهدين خلق ډلي په غاړه اخيستي او ويلي يي دي چي دغه چاودنه يي د ايراني محافظينو په کنترول کي د خپلو وژل شويو کسانو د بدل د اخستلو لپاره کړي ده .

په خبر کي ويل شويدي چي د ايران حکومتي منابعو ډيري هڅي وکړي چي د چاودني ځاني تلفات پټ وساتي مګر بيا هم هر څه افشا شول.

انستيتوت پولتخنيك ...

پولتخنيك کابل در ارتباط موضوع صحبت نموده از همکاري بي شايبه تمندي تهيه مسکن در زمينه ترميم و احياي مجدد انستيتوت پولتخنيك اظهار شکران نمود.

پروژه ترميماتي پولتخنيك کابل شامل ترميم مسجد ، ليليه سوم ترميمات دوبي خانه پاك کاري و ترميم هنګر هاي ورکشاپ ميباشد و کار ترميم ليليه شش که قبلاً آغاز ګرديده بود تکميل و به بهره برداري برده شده است .

هدف از انفجارات اتومي...

چين نيز مجبور خواهد بود به ... انفجارات آزمايش اتومي بزند وي در پاسخ به سوالي گفت ... راضي نمود که پاکستان عمل بالمثل نشان بدهد اما ملامت بخاطري نيست که به اثر فشار بيش از حد ملي مجبور شد دست به اقدام بالمثل بزند، وي در پاسخ به يك سوال ديگر گفت ادعاي کمك اتومي چين با پاکستان بي اساس است، پاکستان از اين ناحيه خود کفاست و ضرورت به کمك ديگران ندارد.

په غورماج کي د ګلم جم ...

مجاهدينو تصفيوي عمليات دوام لري چي ددغو بريالبو عملياتو په نتيجه کي د ګلم جم يو زيات شمير مليشي د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا ونيول شوي.

په خبر کي زيانه شويده ددغو وروستيو فتوحاتو په نتيجه کي د دښمن يوه زيانه اندازه وسله او مهمات د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدينو لاس ته ورغلي دي.

د غورماج په ولسوالي کي د افغانستان د اسلامي اردو مجاهدين لوړ جنګي مورال لري او هره شيبه تيار دي چي په تيښيدلو مليشو باندي مرګوني ګوزارونه وکړي .

د ګلم جم مليشي له مجاهدينو او د حق د لاري له سنګرداراتو سره په مخامخ جګړه کي د مقاومت وس له لاسه ورکړي دي او د امکاناتو په تر لاسه کولو سره د جګړي له ډګر نه تيښتي د ګلم جم بدنامو مليشو د خپلو دغو ماتو له امله خپل مورال بيخي له لاسه ورکړي دي.

بايد وويل شي چي د غورماج ولسوالي د مخالفينو د څو ساعته کنترول نه وروسته بيرته د اسلامي اردو د اتلو مجاهدينو نه په لاس ورغلله نو د مخالفينو شير عرادي فعال ټانګونه په لسهاوو عرادي موټرونه چي انه عرادي يي په وسلو بار وو، ځلور ميله زيکاويك، دري ميله دهشکي او د مخالفينو ۲۰۰ تنه قوماندانان او افراد هم د مجاهدينو لاس ته ورغلل.

اوضاع در درهٔ پنجشير ...

قابل ياد آوري است که افراد مسعود از صفوف قطعات مسلح جوقه جوقه فرار را بر قرار ترجيح داده و بخاطر رهايي از شر مسعود به خارج از کشور مهاجر ميشوند.

در گزارش علاوه گرديده است که مردم عوام روز تا روز به مشکلات اقتصادي مواجه گرديده و قيمت مواد غذايي بحدي بالا رفته است که خريد آن از توان مردم عادي بيرون شده است و اهالي انجا در يك شرايط دشوار اقتصادي و يأس بسر مي برند.

د بهرنيو چارو د وزارت ...

تل يي د پرسونل ضد ماينونو له ايښودلو سره مخالفت کړي دي او هڅکله يي په دي کار لاس نه دي پوري کړي .

دا د افغانستان د اسلامي امارت مخالفين دي چي غواړي د پرسونل ضد ماينونو په کرکيلي سره د ماينونو د چاودني له امله د معلولينو او معيوبينو شمير زيات کړي .

دغه راز محترم حقاني به دي لاره کي د نړيوالو ټولنو د زياتي پاملرني غوښتنه وکړه .

په مقابل کي شاغلي ګونتر د افغانستان د اسلامي امارت تر واکمني لاندي سيمو کي د اوسنيو شرايطو له امله خوښي څرګنده کړه او ويي ويل موږ هڅه او هاند کوو چي د پرسونل ضد ماينونو له شنډولو نه د افغانستان د ځنګلي د پاکولو لپاره په زمينه برابره کړو او په دغه هيواد کي خپل فعاليتونه پراخ کړو .

يادونه

ښايي ستاسو ايمان په اجازه درنګړي چي دا د دول سپيڅلي پاڼي په تاوړو ځايونو کيښي وغورځوي.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

راکت باران کابل چرا ؟!!

شهريان متدين، وطندوست و مظلوم کابل که در طول تاريخ در مقابل هيچ متجاوز و ظالم سر تسليم خم نه کرده و جواب هر جابر و ستمگر را به شيوه مناسب آن داده است در جريان دو دهه اخير مورد تجاوز و مظالم بيرحمانه عمال کمونيزم قرار گرفته با آلام و مشقات بيشمار روبرو گرديده و داغ هاي سوزنده اي به دل ديده اند . کمونيستان خلقي و پرچمي تا توانستند آنها را زير فشار گرفته تا اگر بتوانند از نيروي عظيم بشري و علمي اين پرورش يافته گان کانون علم و دانش به نفع خود استفاده کرده و در نتيجه پايه هاي رژيم پوشالي شانرا استحکام بخشند. بعد از سقوط رژيم کمونيستي نجيب و آغاز جنگ هاي تنظيمي به سرکردگي رباني يکبار ديگر اين مردم شريف و دين دوست بدست تفنگداران گروه هاي مختلف آنقدر تعذيب و توهين شدند که دنيا بالاي شان تنگ شده و از زندگي بيزار گرديدند. جان ، مال عزت و مقدسات شان مورد تاخت و تاز قرار گرفت و ماواي آبايي شان به ويرانه مبدل گشت زمانيکه خوشبختانه به فضل و نصرت خداوند متعال مجاهدين تحريك اسلامي طالبان شهر کابل را از چنگال به راه اندازان وحشت و فساد آزاد ساخته و حاکميت واقعي اسلامي را بر قرار ساختند. مردم کابل از چنگال خونين و ظالمانه مليشه ها نجات يافته و نفس به راحت کشيدند و بعد از آن خون، عفت و هستي شان محفوظ گرديده و مالکان همه هستي هاي مادي و معنوي خويش گرديدند آن وقت بود که بعد از ساليان دراز اهالي وطندوست کابل در يك ماحول پر امن، سکون و اطمينان دوشادوش امارت اسلامي شان به آبادي مجدد شهر ويران شده و مخروبه شان آغاز نمودند متاسفانه که مليشه هاي فراري در حاليکه از شهر کابل و اضافه از هشتاد فيصد خاك کشور در نتيجه قيام هاي اسلامي مردم رانده شده بودند باز هم از ارتفاعات مناطق تحت اثر شان از شهيد ساختن و به خاك خون کشانيدن اهالي کابل سير نگرديده و وقتاً فوقتاً با استفاده از سلاح هاي دور برد مناطق مسکوني شهر کابل را مورد آتش و بارش راکت هاي کور و ويرانگر خويش قرار ميدهند. گرچه فير و کنترول سلاح هاي دور برد و ثقيل مليشه ها در مناطق شمالي بدست مليشه هاي جنرال مالك اين قاتل بيرحم هزاران تن از مجاهدين مظهر تحريك اسلامي افغانستان و افراد جنرال بابه جان اين کمونيست شناخته شده قرار دارد و از نشانه گرفتن مناطق مسکوني کابل توسط آنها هيچ گيله در کار نيست. زيرا بقاياي کمونيزم تشنه به خون اين ملت قهرمان بوده و هر زمان در فکر انتقام شکست هاي بادران روسي شان و سرنگوني اداره خود آنها از مردم مسلمان کشور هستند اما از آنها يکه در ترکيب مليشه ها خود را بنام هاي مختلف لقب داده و ادعاي مجاهد بودن مي نمودند بايد پرسيد که چگونه بقاياي کمونيزم هموطنان مسلمان آنها را مورد هدف راکت هاي ويرانگر قرار ميدهد و ايشان در مقابل هيچ عکس العملي نشان نميدهند. آخر گناه مردم شريف کابل چيست؛ که بايد بواسطه راکت پارچه پارچه گردند؛ اگر آنها حاکميت متجاوزين کمونيستي را نپذيرفته و يا از رژيم پوشالي خلق و پرچم حمايت نکردند و از براه اندازان شر و فساد جانبداري نه نموده اند آيا گناهي را مرتکب شده اند که بايد مورد انتقام قرار گيرند ! و يا اينکه از لشکر فاتح تحريك اسلامي طالبان استقبال نموده و ... شانرا به شهر کابل خير مقدم گفته و در ميله هاي تانکهاي شان اکليل هاي گل را آويخته اند ! کدام يك از اين اعمال جرم است که بايد در بدل آن اهالي شريف کابل بواسطه راکت هاي مليشه هاي مالك و بابه جان مستقر در ميدان هوايي بگرام مورد هدف قرار بگيرند! مليشه هاي درنده خوي آنقدر خود را گم کرده اند که اکنون ديوانه وار به هر سو حمله مي برند و از بشهادت رسيدن مسلمانان حظ مي برند در حاليکه بعد از زلزله مهيب بدخشان و تخار امارت اسلامي افغانستان بمنظور همدردي و تفقد بر هموطنان نجيب خود در بدخشان و تخار مبلغ هزار مليون افغاني مساعدت را اعلام مينمايد مليشه هاي قاتل اهالي مسلمان کابل را مورد راکت باران قرار ميدهد که شايد اين به خاطري باشد که چرا امارت اسلامي به مردم بدخشان و تخار کمك مينمايد. مليشه ها ميخواهند که امارت اسلامي افغانستان نيز همچو مليشه ها به تعذيب مردم ادامه دهد نه تيمار داري و استمداد انها که در اين صورت با تعذيب و کشتار مردم مسلمان کشور دل مليشه ها سرد گردد و بادران روسي شانرا خرسند سازند. همچنان شايد راکت باران شهر کابل در عکس العمل جنرالان کمونيستي به جواب اعلاميه و اخطاريه امارت اسلامي به کمونيست ها باشد که جنرالان کمونيست حاکم در صفوف مليشه ها اين اخطار را زنگ مرگبار براي خود و پيروان خود تلقي مينمايند هرچه باشد امارت اسلامي افغانستان به خط مشي اسلامي خويش استوار بوده افراد جامعه انساني را در هر گوشه و کنار کشور برادر و بازوي خود پنداشته در آلام آنها شريك بوده و در مصايب شان تا حد توان با آنها کمك مينمايد. مليشه هاي کمونيست مالك بابه جان و غيره حاميان مفسد آنها که با پيروي از عادات قبلي شان از شهادت و خونريزي ملت مسلمان دست نميکشند، بايد بدانند که خيلي زود همين توده هاي مجاهد و خدا پرست يکبار ديگر کمر همت بسته و آخرين لانه هاي آنها را به ويرانه مبدل خواهند ساخت و حساب آن همه وحشتگري و درنده خويي را از آنها خواهد گرفت و آن روز خيلي نزديك است . انشاء الله .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331 818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press